AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

ش، حصين ۲۰۱۰/۸/۲۴

# له جواد نه د جواد دفاعیه

څو ورځې مخکې مې د ټول افغان د برښنا پاڼې پرمخ یو شمیر عکسونه ولیدل. داسې ښودل کیده چې په متحده ایالاتو کې افغان سفیر هسې په محفلي مزو چړچوکې ډوب او افغاني سفارت ېې د نڅا او مستیو په اوړو کینولی دی.

عکسونه مې د یوه خام لیکوال او ژورنالیست په توګه په ځیر وکتل او یو له بل او لیکل شوو پایلیکونو سره مې په پرتله کړل. ما د یوه لیدونکي په توګه په خپرو شوو عکسونو کې داسې څه و نه لیدل چې هغه دې په لویدیځ هغه هم په دیپلوماتیکو کړیو کې د ځانګړو داسې ناوړه کړو وړو څه وښیي چې ددې اړتیا رامنځ ته کړي چې رسوایی ټولې نړۍ ته ورسول شی. د موسیقي، نڅا او د بهرنیو میلمنو له پاره د شرابو شته والی هغه هم په یوه دیپلوماتیکه ناسته کې ښایي زموږ د عامو خلکو له پاره د پوښتنې وړ وي خو په بهر او د دیپلوماسۍ په اډانه کې دغه څه کوم نوي څه نه دي. نه د سفیر په لاس کې جام شته نه د هغه د میرمنې یا نورو افغانانو په لاس کې. آن د عراق سفیرهم تش لاس ولاړ دی. یو ځوان هلک له یوې ځوانې جلۍ سره په معمولو اروپاېې جاموکې د نورو په منځ کې نڅا ته ورته څه ډیر عادي حرکتونه کوي. په یوه بل عکس کې یوه افغاني خور چې لیکل شوي د سفیر میرمن ده په داسې حال کې ښکاري چې معمولې اروپایي جامې ېې په تن دي. د دغه عکس په شاو خواکې نه کومه ونه، نه کوم شینیلی، نه د کوم کور یا ماڼۍ دیوال یا دروازه شته او نه کوم بل انسان لیدل کیږي. ښایي زوی ېې، ښایي لور ېې، ښایی خپل خاوند ېې، ښایي کوم بل چا دهغې داعکس اخیستی وي، او داهم کیدای شي چې خپله ېې کمره ځانته د یوه شخصي عکس اخیستلو له پاره چمتو کړې وي. دا عکس کوم د شرم یا ننګ څه ښیي؟ چا دا عکس د کومو غرضونو له پاره تر رسنیو را ورساوه؟ د دغې میرمنې په عکس کې کوم ځانګړې څه و چې دومره ډنډورې ورپسې جوړې شوې. یواځې همدا چې چادرې او ایراني ډوله پړونی ېې په سر اوغاړه نه و را تاوکړی او افغاني هغه دودیزه جامه ېې نه درلوده چې افغاني میرمنې هم هر وخت او په هر ځای کې هغه نه اغوندي او نه یې اغوستلی شي؟ او که کوم بل څه؟

زما له نظره دا خبره هم ډیره مهمه نه ده چې دا عکسونه د سږ کال وو او که د تیرکال د خپلواکۍ د نویمې کلیزې په ویاړ په سفارت کې د جوړې شوي میلمستیا. که رښتیا ووایو د سفارتونو میلمانه کارګران، بزګران، کسبګر، ملایان یا طالبان نه وي، ډیره برخه دیپلوماتان او دهغو کورنۍ وي دا یو منل شوی نړیوال دود دی. د هرې میلمستیا په پای کې هم رسنۍ عکسونه اخلي او هم د دیپلوماتانو کورنۍ او راغلي میلمانه. که په عکسونو کې سفیر او د هغه میرمن له کوم بهرني دېپلومات سره لیدل کیږي نوهغه دېپلومات هم له ځانه سره خپله میرمن په څنګ کې لري دا څه داسې بدعت دی چې دبښلو وړ نشي ګرځیدلی.

سفیر څوک دی،څه کوي، دده په کړو وړو کې دده کورنۍ کوم ځای لري، د افغاني جهاني اعتبار او ملي درنښت ساتنه کولی شي که نه، د خپلو خلکو او وطن استازی دی که د پردو هرڅه پالي، افغاني تابعیت لري که ېې نه لري... دا ټولې هغه پوښتنې دې چې که موږ یوه خپله ملي خپلواکه واکمني درلودله نو تر هرڅا د مخه باید د بهرنیو چارو وزارت او خپله دولتي واکمنۍ دغه څه څیړلي وای. په روانو حالاتو کې څوک باور کولی شي چې زموږ بې شمیره لوی واکمن دې رښتینی افغاني تابعیت ولري، او د دوی کورنۍ دې په هیواد کې د ننه او بهر د ساز او آواز، نڅاوو او تودو میلو په لور په اروپایي جاموکې نه وي ورغلي. که هره ورځ د هرې کورنۍ محفلي عکسونه رسنیو ته ورکړو او د خپل تنګ کنګل شوی فکري ذهنیت په تله ېې وتلو نو داسې یوه ناولې جګړه به مو پیل کړې وي چې کورنۍ نه بلکې د افغاني ملي اخلاقي شخصیت لمن به مو څیرلې وي.

یو وخت ما د شوروي واکمنۍ په زمانه کې د واکمن ګوند د مرکزي ارګان د لیکنې په ډله کې کار کاوه. هغه وخت له نوي ډهلي څخه ورځپاڼې ته یو عکس د وخت د مرکزې کمیټې له لارې راغی. په نوموړي عکس کې یوه تنکۍ افغانه جلۍ په ښکلو افغاني جامو کې چې ډیرې کوچیانۍ جامې وې د متحده ایلاتو د وخت د جمهور رئیس رونالد ریګن په غیږ کې ښکاریده. ډیرو غوښتل چې دغه عکس د یوې تبلیغاتي وسیلې په توګه چاپ کړي ځکه ناهید د صبغت الله مجددې لور ګڼل کیده او هغه د روانې واکمنۍ دښمن و. دغه عکس یو مونتاژ شوی عکس ، په یاد مې دي چې ما او لطیف پدرام د دغه عکس له خپریدو سره مخالفت وښود او هغه مو نه یواځې یو مونتاژ شوی شی وګاڼه بلکې خبره مو داوه چې دغه جلۍ په دغو جاموکې زموږ د افغانۍ کلتور، حیا، شرف او عزت یو نښه ده موږ یواځې دغه جلۍ او دهغه پلار نه سپکوو بلکې د خپل افغاني اخلاقي شخصیت پر مخ هم یو تور داغ لګوو. دغه عکس په هغو ورځو کې خپور نشو خو څو موده وروسته د هغه کتاب په وروستي مخ چاپ شو چې عنوان ېې و« منافق


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

درنقش مجاهد». دغه کتابګوټي ډېر ژر آن په ګوندي غړو کې دومره دکرکې او نفرت وړ شو چې چاپې نوم نه شو اخیستلی.

موږ نه باید هغو اورونو ته پکې ووهو چې بڅري بې زمو ږ د خلکو د عزت او ورورۍ لمنې ته ورلوېږي.
سیاست به د زور او تذویر په روانه دنیا کې د انساني اخلاقو سر خوړلی وي خو په همدې لاره خپل هرڅه سیخول ښې پایلې نه لري. جنګ په سفیر دی ځپېږېې کورنۍ او پراخه خپل خپلوان خوري ځکه نه هغه سفیر د بوټۍ له بیخه دی او نه د هغه میرمن روان سپکاوی هغو ټولو ته سپکاوی دی. همدا ډول سفیرصاحب هم په خپله خپره شوې اعلامیه کې د ځان له پراخه ستاینو وروسته د خپلو کلماتو او جملاتو حساسیت ته پام نه ساتي او په یوه ځپېږه ملیونونه مخونه وهي. د سفیر سیوری بیا تر هغه نه زیات ویره وونکی دی.
د سفیر د سیوري خبره وشوه. په نړۍ کې په ملیاردونو نومونه شته، دا څه معجزه ده چې په دې لویه دنیا کې یو سړي له سید جواد طیب نه دفاع کوې او هغه هم بې له هر ډول مختاړي او وروستاړي تک او تنها جواد دی. جواد صاحب وایي له سید طیب جواد سره مې « نه کومه شخصي ملګرتیا شته، نه مې همکار دی او نه مې خپلوان!!» ښاغلی دویم جواد ښایي رښتیا ووایي خو زه په دې پوه نه شوم چې دا دوه دندایي نښې دده د خبرې په پای کې څه معنی لري، که ځان یا بل چاته خطاب وي خو یوه ندایه بس وه او که دا د تمسخر نښه وګڼل شي نو بیا دا هوښیار جواد خو به خپل ځان نه مسخره کوي؟ او له دې ټوکې چې تیر شو دویم جواد د سفارت میلمستیا ته چا، څنګه، د کومې پیژند ګلوۍ له مخې ور غوښتی و او څنګه سفیر او د سفیرکورنۍ ته دومره منلی میلمه و چې د هغې شپې تر وروستیو شیبو له سفیر او د سفیر له کورنۍ سره مل و او په خپله لیکنه کې بې دده په وینا ټول حقیقتونه تر پایه په خپلو سترګو لیدلي دي.
همدغه څه خپله نه ښیي چې دویم جواد نشته او که شته په خپلو دروغو کې را ښکیل دی.

هرڅه چې وي هغه به وي خو د پام وړ خبره داده چې د هیواد په روانو درندو، خونړیو ویروونکو حالاتو کې چې وطن د خپل ژوند او مرګ له پوښتنې سره مخ دی ولې یو جواد او بل جواد خپلو کلمو، استعارو، کنایو، تورونو ، تهمتونو اوعنوان ایښودلو ته پام نه ساتې. هغې یا دغې رسنۍ یا کوم قلمې همکار بې تیر وتنه وکړه د هغو ځواب د هر جواد حق دی ، خو داسې څه ویل چې په یوه ځپېړه د یوه اولس مخ ته ګوزار ورکوي خواشینوونکی دی.

ځان برحق ګڼل نور د انګریز مزدوران شمیرل، د پخواني پادشاه له دورې یادونه خو هغه ته د ملت د بابا د ورکړل شوي لقب په وړاندې درې ندایه نښې ایښودل چې د تمسخر او توهین نښې دي رښتیاهم د یوه پښتانه جواد لیکنه ده؟
واقعیت خو دادی چې ډېر پښتانه په خپله هم پوهیږي چې د بابای ملت لقب ورکول یوه د ورځې بازار تیزي وه خو اوس هغه که بابای ملت و که نه و له دې دنیا څخه تللی دی، سپکول او ملنډې پرې وهل زموږ د وطن د هیڅ اولس له بچو سره په تیره بیا له یوه پښتانه سره نه ښایي. زه نه غواړم ترخې او د خلکو خبره لکۍ لرونکې کلمې او اشارې چې د دواړو جوادیانو په خبرو کې راوړل شوي بیا را ژوندۍ کړم. هیله مې داده چې هیڅوک خپلې شخصي ناندرې داسې چاغې نه کړي چې د خلکو او اولسونو په زخمونو مالګې ور ودوړوي. د ډېرو افغان وطنپال بچو ویره داده چې دغه ډول ناندرۍ په خپله هم د افغاني روښانفکري طاقت د مصروف ساتلو، په خپلو کې د بې باوره کولو او پاشلوله بهر نه جوړه شوې لوبه نه وي. که لږ هوښیاري او ملې اخلاقي مسؤولیت راسره وي باید دې لوبې ته د پای ټکی کیږدو.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ